


# شپږمیاشتنی رپورټ، د ۲۰۱۷ له جنورۍ نه تر جون پورې

# افغانستان د ژورنالیستانو او رسنیو لپاره خطرناکه هیواد

AJSC
AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان

د خپریدو نېټه: د۲۰۱۷ د جولای ۲۴مه

# لړلیک

پېلامه ........ ۱
د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږومیاشتو کې د تاوتریخوالو شمیر ........ ۲
د نوعیت له مخې د تاوتریخوالي شمیرې ........ ۳
دتاوریخوالو عاملین ........ ۳
دکمیټې لخوا د خبریالانو پروړاندې دتاوتریخوالو دپیښو تعقیب ........ ۴
معلوماتو ته نه لاسرسی (د دولتي مسوولینو له لوري بې بنسټه، زاړه او سولېدلي معلومات وړاندې کول) ........ ۵
په رسنیزو اداروکې دننه د خبریالانوستونزې ........ ۶
د خپلو کاروونکو دخوندیتوب په اړه د رسنیو ناغیري ........ ۶
د خبریالانو او رسنیو پروړاندې د تاوتریخوالي اعمال ........ ۷
افغانستان‌کې د ښځینه‌خبریالانو کاري‌وضعیت‌ته‌یوه‌کتنه ........ ۸
پایله ........ ۹
وړاندیزونه ........ ۱۰

## پیلامه

د ۲۰۱۷ میلادي کال لومړۍ شپږمیاشتې هم د تیرکال دغه وخت په څیر د افغان خبریالانو لپاره خورا بدې شپې ورځې وې. دناامنیو او بې ثباتیو په ډیریدو سره د خبریالانو پروړاندې ګواښونه هم زیات شوي ،سره له دې چې افغان حکومت دخبریالانو دخوندیتوب لپاره تابیاوې هم یو څه ډیرې کړې دي.

د بیان او رسنیو ازادي دبیلابیلو اړخونو په ځانګړې توګه د دولت د مخالفینو له ګواښ سره مخ ده او ددغه حق د له لاسه ورکولو خطر لکه د پخوا په څیر لا هم شته. د ترهګرو ډلو له مینځه بیا د داعش ډلې له لوري دخبریالانو او رسنیو پروړاندنې ګواښونه زیات شوي دي. په وروستي مورد کې دغې ډلې د ۲۰۱۷ کال په مي میاشت کې په جلال اباد ښار کې د ملي راډیو ټلویزون پروډانۍ برید وکړ چې پکې ددغې رسنۍ ۴ کارکونکي ووژل شول. پردغې رسنۍ برید او دغه راز ننګرهار ولایت کې رسنیو ته د داعش ډلې له لوري پرلپسې ګواښونو د ننګرهار ولایت او ګاونډیو ولایتونو خبري مجلسونو کې یولړ اندیښنې را ټوکولې دي.

د بیان او رسنیو د ازادۍ د ساتنې په برخه کې د حکومت نه جدیتوب نه یوازې دا چې اندیښنې زیاتې کړې دي بلکې هغو خلکو ته یې هم فرصت په لاس ورکړی چې ددغه ارزښت مخالف دي ، او په دې توګه هغوی د بیان او رسنیو ازادي ټکوي. د بیان او رسنیو د ازادۍ خوندیتوب ته د حکومت د پاملرنې کمیدا ، داسې شک او ګمان را پیدا کړی دی چې چارواکي په ټولنه کې د رسنیو د اغیزې ،ښې حکومتولۍ ، د ډیموکراسۍ په پیاوړتیا او د بشري حقونو د لوړتابه په برخه کې یې پر تاثیر باور نه لري. له بلې خو بیا معلوماتو ته د لاسرسي د مسلې دوام ، خبریالانو اود بیان او ازادو رسنیو په اړه د حکومت په ژمنو له پخوا زیات شکمن کړي دي.

دا د افغان خبریالانو دخوندیتوب کمیټې نهم رپوټ دی چې د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږومیاشتو کې یې دخبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي شمیرې په مستنده توګه را ټولې کړې او ارزولې دي. دغه رپوټ کې د خبریالانو دخوندیتوب دمطالعې ترڅنګ ، دغه رپوټ کې د کال په لومړیو شپږومیاشتو کې د بیان د ازادۍ د څرنګوالي او هم د هیواد په کچه د معلوماتو د رسونې په اړه بحث شوی. د یادونې ده چې د پیښنو ثبت د کمیټې د پالیسۍ له مخې شوی او یوازې هغه قضیې دلته ثبت شوي چې د خبریالۍ د کار په جریان یا هم د خبریالۍ د کار له امله ورسره خبریال مخ شوی وي.

## د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږومیاشتو کې د تاوتریخوالو شمیر

د ۲۰۱۷میلادي کال په لومړیو شپږومیاشتو کې کمیټې ۷۳ د تاوتریخوالي پیښې ثبت کړې دي چې پکې د وهلو ټکولو، ټپي کیدو، سپکاوي ، ګواښنې او لنډې مودې نیونې شاملې دي. دغه شمیره د ۲۰۱۶میلادي کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۳۵سلنه زیات والی ښیي تیرکال دا وخت د تاوتریخوالي ۵۴ قضیې ثبت شوې وي. په دغه موده کې ۱۰ کسه خبریالان او رسنیز کارکونکي وژل شوي دي چې دخبریالانو د وژنې د لوړې کچې په اړه یې د خبریالانو دخوندیتوب کمیټه سخته اندیښمنه کړې ده. د طالبانو او داعش ترهګرې ډلې ددغو ټولو وژنو مسوولې دي. وژل شوي کسان یا په مستقیمه توګه او یاهم د طالبانو یا داعش ترهګرو ډلو په تروریستي بریدونو کې وژل شوي دي. پر ملي راډیو ټلویزون د داعش ترهګرې ډلې په برید کې چې په مې میاشت کې وشو ، ۴ کسه ووژل شول . په هغه برید کې چې مارچ میاشت کې په پارلمان باندې وشو ، د ولسي جرګې د ټلویزون ۲ تنه کارکونکي ووژل شول ، دغه راز دجرمني سفارت مخ ته چې کومه لویه بمي چاودنه وشوه پکې ۴کسه خبریالان او رسنیزکارکونکي ووژل شول.

په دغو شپږو میاشتو کې لکه د تیرو کلونو په څیر د کمیت له مخې ډیرترسره شوي تاوتریخوالي د حکومتي او امنیتي ځواکونو له لوري وو. دوی د ۳۴پیښو مسوول دي چې په ټوله کې د ترسره شویو تاوتریخوالو ۴۶سلنه جوړوي. هغه تاوتریخوالي چې د حکومتي منسوبینو له لوري ترسره کیږي تر ډیره ددغو کسانو او ادارو له ناقانونه کړنو د پردې پورته کولو له امله وي.

له کمي اړخه دطالبانو او داعش تروریستي ډلې دویم ځای لري ، خو هغه تاوتریخوالي چې دغه ډلې یې ترسره کوي په کراتو شدید او خونړي وي، لکه څنګه چې دوی د خبریالانو د ټولو وژنو مسوولیت په غاړه لري. د ترهګرو ډلو لخو دخبریالانو ته ګواښنه او ورسره تاوتریخوالی مخ په ډیریدو دی . دغه ډلې تر ډیره خبریالان له دې امله ګواښي چې ددولی له خوا خبریالانوته د ورکړل شویو خبرونو یا دهغوی د غوښتنو په برخه کې ورسره همکاري نه کوي. له رسنیو سره ددوی ایډیولوژیک مخالفت او د ټولنې په بیدارولو او پوهلو په برخه کې د رسنیو ونډه یو بل علت دی چې دغه ډلې رسنۍ او خبریالان ګواښي.

له تروریستي ډلو او حکومتي کسانو ور هاخوا په یوشمیر مواردو کې د پارلمان استازي ، د ولایتي شورا غړي، والیان، زرواکي او ناپیژنده کسان هم دخبریالانو پروړاندې دتاوتریخوالي لامل شوي دي. دغه ډلې هم تر ډیره ددې له امله خبریالان ګواښي چې ددوی له ناوړه کړنو نه پرده پورته کوي.

دخبریالانو پروړاندې د تاوریخوالو شمیر د زونونو له مخې په دې ډول دی:



## د نوعیت له مخې د تاوتریخوالي شمیرې




## دتاوتریخوالو عاملین



## دکمیټې لخوا د خبریالانو پروړاندې دتاوتریخوالو دپېښو تعقیب



دپژواک خبري آژانس خبريال فريد تنها د ۲۰۱۷کال د مې مياشتې په اتمه د پروان د ولايتي شورا غړي له خوا په دې خاطر ورټل شو او وګواښل شو چې د هغو ځمکو په اړه يې يو رپوټ جوړ کړی و چې د ولايتي شورا ددغه غړي لخوا غصب شوي دي. دغه خبريال د افغان خبريالانو دخونديتوب کميټې ته مراجعه وکړه ، کميټې هغه کابل ته راوغوښت او له مقابل لوري سره يې ددې دستونزې د اوارې په خاطر خبرې وکړې او ددوی ترمنځ را ولاړه شوې لانجه يې ختمه کړه ، خبريال د مسلې تر اوارې پورې د کميټې له ملاتړ او مرستې نه برخمن و.



د ۲۰۱۷کال د مې مياشتې په ۱۷مه داعش ډلې په ننګرهار ولايت کې د ملي راډيو ټلويزون پر ودانۍ بريد وکړ چې څلورتنه يې شهيدان شول ، له دغې پېښې وروسته کميټې د شهيدانو له کورنيو سره يوه اندازه نغدي مرسته وکړه او هم يې يو تن ټپي شوی کابل ته راوليږداوه او د درملنې لګښت يې هم په غاړه واخيست کې . دغه راز د ننګرهار ولايت دملي را ډيو ټلويزون کارکونکو ته چې له رواني اړخه يې ضربه ليدلې وه په ننګرهار اوکابل کې د رواني درملنې ورکشاپونه جوړ شول.



د ارزو ټلويزون خبريالان فوادتلاش او سيد جاويد سادات دخپلو دوو تنو نورو همکارانو په ملتيا بغلان ولايت تللي وو چې هلته ددغه ولايت له والي سره مرکه وکړي خو والي په دغه ولايت کې د امنيتي ستونزو په اړه دغو خبريالانو پښتنو په غوصه کړ او مرکه يې نيمګړې پريښوده او خبريالان يې سپک کړل ، دغه راز يې ورته وويل چې له خپلې کمرې نه ضبط کړي مواد پاک کړي، خو کله چې دغو خبريالانو مقاومت وکړ نو شاوخوا د دوه ساعتونو لپاره په نه رسمي توګه د والي په دفترکې بندکړل شول ،کله چې دغه خبره د افغان خبريالانو دخونديتوب کميټې سره شريکه کړای شوه نو په شمال ختيځ زون کې د افغان خبريالانو دخونديتوب کميټې استازي د بغلان ولايت له والي او د امنيې له قوماندان سره اړيکه ونيوه او مسله يې اواره کړه ، چې بيا دغه خبريالان په خوندي توګه تر بلخ ولايته ورسول شول .



په ختيځ زون کې د طلوع نيوز ټلويزون خبريال زيارخان ياد له څو نوروخبريالانو سره د۲۰۱۷کال د جون مياشتې په ۱۳مه نيټه تللی و چې د کابل جلال آباد سړک د دويم لين د کار ځنډيدا په اړه رپوټ جوړ کړي خو د دغه شرکت د ساتونکو له لوري وهل شوي او د لنډ مهال لپاره په يوه کوټه په ناقانونه توګه بند کړل شوي وو. دکميټې ساحوي استازي دغه مسله له ولايتي مسوولينو سره شريکه کړه او چې ددغې عدالت غوښتنې په پايله کې د سړک جوړونې دشرکت درې تنه ساتونکي د پوليسو لخوا ونيول شول.



په همدغه خاطر کميټې دهغو خبريالانو لپاره چې له ناوړه پېښو او تروريستي بريدونه سره مخ شوي د رواني درملنې پروګرامونه په پام کې نيولي چې تراوسه له پنځوسو زياتوخبريالانو په دغو ورکشاپونو کې برخه اخستې او په پام کې ده چې ددغو پروګرامونو په لړ کې ۷۰کسه نورو خبريالانو ته هم د ټول هيواد په کچه دغه شان ورکشاپونه جوړکړل شي.
د ځان ساتنې لپاره د تابياوو نه کارول او دغه راز له ضروري وسايلو نه کار نه اخستل د جنګ په لومړيو کرښو کې خبريالان له جدي ګواښونو سره مخ کوي. د افغان خبريالانو دخونديتوب کميټې يوشمير رسنيو ته په دغه برخه کې روزنيز پروګرامونه جوړکړي او يوشمير خبريالانو ته يې هغه واسکټونه چې ( ژورناليست) وربانديې ليکل شوي ويشلي دي.

## معلوماتو ته نه لاسرسی (د دولتي مسوولینو له لوري بې بنسټه، زاړه او سولېدلي معلومات وړاندې کول)

اطلاعاتو ته نه لاسرسی هم د روان کال له ستونزو ا و خنډونو څخه دي، چې تر اوسه دا نیمګړتیا ډکه شوې نه ده. په مرکز او ولایتونو کې د ډېرې ادارو ویاندویان او د چارو سمبالونکي خبریالانو ته په وخت کره اطلاعات او ځواب نه ورکوي او هڅه کوي، چې معلومات په یوه شکل پټ وساتي.
د اساسي قانون د پنځوسمې مادې مطابق اطلاعاتو ته لاسرسی د هر افغان وګړي حق دی، خو اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون له موجودیت سربېره تر اوسه لا هم دا حق مستحقینو ته رسېدلی نه دی او په دې برخه کې لا هم زیاتې ننګونې موجودې دي.

له دولتي چارواکو څخه ډېری خبریالان له دې امله سر ټکوي، چې پر وخت اړین اطلاعات نه ورکوي. د بېلګې په توګه د سردار محمد داود خان روغتون د یادونې وړ دی، چې خبریالانو ونشوای کړای کره او پر وخت اطلاعاتو ته لاسرسی پیدا کړي. له دې امله چې خبریالانو ته پر وخت معلومات ورنکړل شو، نو خبریالان مجبور شول چې د پېښې د شاهدانو د سترګو له لیدلي ویلو څخه استفاده وکړي. په شاهین ۲۰۹ قول اردو برید کې هم د ملي اردو رسمي ویاند د تلفاتو شمېر اته تنه ښوده، په داسې حال کې چې تر سلو پورته وژل شوي وو.

له دې دوو پېښو وروسته خبریالانو دولتي ویاندویان او چارواکي تورن کړل، چې کره او پر وخت معلومات نه ورسره شریکوي. یادې ستونزې او شکایتونه یو شمېر خبریالانو له دولتي ویاندویانو سره د ناستې په لړ کې چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې له لوري رابلل شوې وه، شریک کړل. په دې ناسته کې له چارواکو څخه وغوښتل شول، چې د ویاندویانو صلاحیتونه او مسوولیتونه مشخص کړي، ترڅو هغوی وکولای شي خپلو صلاحیتونو ته په کتو پرېکړه وکړي او پر وخت له خبریالانو سره معلومات شریک کړي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پر اساس دولتي ادارې باید د اطلاع ورکونې په موخه مشخص کس وګماري، خو تر اوسه پورې په ځینو دولتي ادارو کې لا هم دا نیمګړتیا محسوسېږي. د بېلګې په توګه تر اوسه پورې د هېواد ستره محکمه او د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو اداره رسمي ویاندویان نه لري، نو پر دې اساس خبریالان نه پوهېږي، چې له یادو ادارو څخه د اطلاعاتو د اخیستلو په موخه چا او چیرته مراجعه وکړي.

له دې سربېره اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پر اساس پر دې قانون د تطبیق کمیسیون هم تشکیل شوی، خو له بده مرغه یاد کمیسیون مالي او اداري خپلواکي نه لري او نشي کولای هغسې چې لازمه ده اطلاعاتو د لاسرسي پر قانون څارنه وکړي او اطلاعاتو د لاسرسي د پراختیا لپاره مناسبه پالیسي تدوین کړي. د اطلاعاتو د لاسرسي پر قانون د تطبیق کمیسیون په اړه د خبریالانو وړاندیز دادی چې قانون دې تعدیل شي او د دې کمیسیون صلاحیتونه دې زیات کړای شي.

په ولایتونو کې هم خبریالان اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې زیاتو ستونزو او ننګونو سره مخ دي. په ځینو ولایتونو کې والیان او ویاندویان یې خبریالانو ته په تبعیضي شکل معلومات ورکوي. په دې مانا که خبریال له والي او یا د ولایت له امنيې قوماندان سره ښې اړیکې درلودې کړه او پر وخت معلوماتو ته لاسرسی لرلی شي، خو که د دوستۍ له دایرې لرې او د دوی په خوښه یې راپوررونه برابر او نشر نکړل له اطلاعاتو څخه هم بې برخې او محروم دي. په ځینو ولایتونو کې چارواکي د خبریالانو خولې په پیسو او نورو مادیاتو خوږ.وي او په دې بڼه د انتقادي راپورونو مخه نیسي. له خبریالانو سره د لومړۍ درجه ولایتونو د مسوولینو د همکارۍ کچه فرق کوي. د ځینو ولایتونو مسوولین حسنه اړیکې او همکاري لري، خو ځینې نور یې تبعیضي چلند کوي او لازمه همکاري نه کوي. ډېر کله د والیانو دفترونه او هم د ملي اردو قوماندانان له خبریالانو سره تر یوه بریده اړیکې پالي ځکه هغوی دې ته لیواله دي چې خبرونه یې په ګټه خپاره شي خو همدغه مسوولین بیا ځان غړوي او یاهم وخت اړوي.

له پورته یادو شویو ادارو سربېره اکثره سیمه ییزې اداري اطلاعاتو ته د لاسرسي په نوم له سره قانون نه پېژني او خبریالانو ته د اطلاعاتو په ورکونې هیڅ ځان مکلف او ملزم نه ګڼي، که څه هم په دې برخه کې قانون شتون لري. همدارنګه په نا امنه ولایتونو او لرې پرتو سیمو کې د زورواکو شتون د مطبوعاتو د ازادۍ پر وړاندې بل خنډ دی، چې اطلاعاتو ته د لارسرسي په برخه کې ستونزې را ولاړې کړي.

## په رسنيزو اداروکې دننه د خبريالانوستونزې

لا هم په افغانستان کې خبريالان دننه رسنيزو اداروکې له ستونزو سره مخ دي. د کارکونکو ګمارنه او منفکي د کار قانون او ټولیزو رسنيو د تاسيس او فعاليت له مقررې سره سم نه ترسره کېږي. ځيني رسنۍ حتا د دې پروسو لپاره اداري پاليسي نه لري او کارکونکي او خبريالان لکه ورځني مزدوران پرته له دې چې د استخدام مرحلې يې په نظر کې ونيسي استخداموي او په ډېرې اسانۍ سره يې پرته له دې چې د ګوښه کېدو قانع کوونکي دلايل وړاندې کړي، ګوښه کوي او د مياشتو مياشتو معاش ترې ګرځوي.

که څه هم د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څوڅو ځله له رسنيو غوښتنه کړې، چې د قراردادونو کاپي دې ياد وزارت ته ورلېږي، خو د رسنيو د امتياز خاوندان او څښتنان د معلوماتو د شريکولو او وړاندې کولو په برخه کې هيڅ ځان مکلف نه ګڼي، په داسې حال کې چې ياده پروسه د رسنيو او کار قوانينو او د ټولیزو خصوصي رسنيو د تاسيس او فعاليت د مقررې مطابق دي، چې د رسنيو مسوولين د خبريالانو او کارکونکو د استخدام او منفکۍ په صورت کې خپل اسناد له ياد وزارت سره بايد شريک کړي.
ښځينه خبريالانې او د رسنيو کارکونکې هم د رخصتۍ او ځينو نورو برخو کې له قانوني اسانتياو محرومې دي او ډېرې يې له جدي ستونزو سره مخ دي.

لا هم د ټولیزو رسنيو د تاسيس او فعاليت مقررې مطابق د اداري ستونزو د حل کمېټه تشکيل شوې نه ده او د خبريالانو او رسنيو ترمنځ ډېرې ستونزې پرته له دې چې وارزول شي، ناحل پاتې کېږي. په ډېرو مواردو کې دا ډول قضيې د ټولیزو رسنيو کميسيون ته لېږل کېږي، خو دا چې لازم اسناد لکه د قراردادونو کاپي موجودې نه وي، ناحل پاتې کېږي.

## د خپلو کاروونکو دخونديتوب په اړه د رسنيو ناغيرې

ډېرې رسنۍ چې کله خپل خبريالان جنګي لومړۍ خطونو او يا هم نا امنه سيمو ته لېږي په خوندي وسايلو يې نه سمبالوي، لکه د دوی د امنيت په اړه چې ډېر بې تفاوته وي. خبريالان په سختو جنګي حالاتو کې پرته له دې چې زغره ايزې خولۍ او واسکټ په تن کړي، په عادي جامو کې د جنګ لومړۍ کرښې ته ځي، حتا جنګي لوريو ته د ځان پېژندنې لپاره عادي لوګو او نښانې هم نه لري. له همدې امله هم د خبريالانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ دی.

همدارنګه د جنګ لومړۍ کرښو او نا امنه سيمو ته د امنيتي ځواکونو له همغږي پرته سفر د خبريالانو د وژنې خطر زياتوي. له نا امنه سيمو د امنيتي ځواکونو د کاروانونو تېريدل چې د تروريستانو د حملو احتمالات زيات وي هم خبريالانو ته د خطر ګراف لوړوي.

پر دې سربېره ډېرې رسنۍ ځانونه مکلف نه ګڼي، چې خپلو خبريالانو ته د خونديتوب ټرېنينګونه ورکړي، چې څنګه له جنګي صحنو راپورونه چمتو کړي او څنګه لاريونونه او تاوتريخجن حالات کاور کړي، چې هم يې ځانونه خوندي ساتلي وي او هم يې راپور چمتو کړی وي. د رسنيو دا نيمګړتيا او له خپلو خبريالانو سره دا ډول چلند د دې لامل کېږي، چې په ډېرې حالاتو کې خبريالان وهل ډبول کېږي او کله کله حتا ټپيان کېږي. کمېټې هڅه کړې چې خبريالان او راپورټران د خونديتوب دا ډول زده کړې ترلاسه کړي. په دې لړ کې په کابل او ولايتونو کې د خبريالانو د خونديتوب لپاره په نوې او متفاوته بڼه پروګرامونه جوړ شوي دي.

## د خبريالانو او رسنيو پروړاندې د تاوتريخوالي اعمال

له ختيځ او سوېل څخه شمال او لويديځ ته د جګړې پراختيا د خبريالانو پر وړاندې د ګواښونو کچه لوړه کړې ده.ی په تېر کې هم خبريالان د طالبانو له لوري له ګواښونو سره مخ و، چې يا به مخامخ د دوی له لوري وژل کېدل او يا به هم د دې ډلې له لوري د خښ کړل شويو ماينونو ښکار ګرځېدل. د اريانا نيوز خبريال چې په وروستيو کې د دې ډلې له لوري د خښ کړل شوي ماين په چاودنه کې شهيد شو، د دې ادعا ښکاره بېلګه ده.

دوه کاله وړاندې چې به خبريالان د طالبانو د کومې ډلې له لوري له ګواښ او ستونزې سره مخ کېدل، د دوی له وياند سره به اړيکه نيول کېده او د ګواښ له کچې به يې ځانونه خبرول، خو پر کندوز د دې ډلې له بريد وروسته دا اړيکې ترينګلې شوې او د دې ډلې نظامي کميسيون رسماً طلوع او يک تلويزيونونه وګواښل، چې له ياد ګواښ څو مياشتې وروسته په کابل کې د موبي ګروپ کارکونکي د طالبانو له لوري تر حملې لاندې راغلل، چې په پايله کې د موبي ګروپ يرسنيزې ډلې اوه تنه کارکونکي شهيدان شول.

په وروستيو کې د بېلابېلو ډلو رامنځ ته کېدو او فعاليت د خبريالانو پر وړاندې د ګواښ کچه نوره هم لوړه کړې ده. داعشيان چې تر ډېره د افغانستان په ختيځو ولايتونو کې له دوو کلونو را په دې خوا فعاليت لري او پر کابل سربېره د افغانستان په مختلفو ولايتونو کې حملې او چاودنې ترسره کوي، نوی سرخوږی دی چې د خبريالانو او رسنيو پر وړاندې را پيدا شوی.

د ننګرهار په ملي راډيو ټلويزيون د يادې ډلې بريد د طالبانو په پرتله د دوی سخت دريزي او وحشت ښکاره کوي او ښکاري چې دوی د ملکي وګړو په وژلو کې له طالبانو هم وړاندې دي.

په دې بريد کې چې څلور تنه ووژل شول او يو تن بل ټپي شو، د دې رسنۍ ودانۍ او سټډيوګانې هم زيانمنې شوې. رسنيو او خونديتوب کمېټې له کشفي ارګانونو څخه داسې ليک ترلاسه کړ، چې تر حملې وړاندې کشفي ادارو د والي په شمول د ننګرهار نورو امنيتي مسوولينو ته په ننګرهار ملي راډيو تلويزيون د حملې په اړه خبرداری ورکړی و. د دې ليک نښه ښيي چې حداقل څلور ورځې وړاندې کشفي ارګانونو والي او نورو امنيتي ادارو ته خبرداری ورکړی و، چې داعشيان تصميم لري پر ملي راډيو تلويزيون سربېره پر څلورو دولتي ادارو هم مهاله بريدونه ترسره کړي، خو والي او نورو امنيتي ادارو په دې اړه هيڅ جدي تدابير ونه نيول او د امنيتي ادارو بې پروايي سبب شوه چې دومره لويه پېښه رامنځته شي، چې څلور تنه په کې شهيدان او يو بل تن په کې ټپي شو.

بده او د تاسف وړ لا دا چې په جلال اباد کې د ننګرهار ملي راډيو تلويزيون ودانۍ لا هم له جدي امنيتي تدابيرو سره مخ ده او هر وخت امکان لري، چې د تېر په څېر تر بريد لاندې راشي.
د دې رسنۍ کارکونکو وړانديز وکړ، چې د خونديتوب لپاره دې يوه امن ځای ته انتقال شي، خو تر اوسه د دوی دا وړانديز د دولت له لوري منل شوی نه دی.
د داعش (خلافت) راډيو چې له يو څه مودې وروسته يې بيا نشرات پيل کړي، په دوامداره توګه د ننګرهار خبريالان او سيمه ييزې رسنۍ په مرګ او بريدونو ګواښي او له هغوی څخه غوښتنه کوي، چې دندې پرېږدي. انديښنې موجودې دي، چې د دا ډول ګواښونو له زياتوالي سره به يو شمېر خبريالان دندې پرېږدي او رسنۍ به وتړل شي.
د خبريالانو او رسنيو پر وړاندې د تروريستي ډلو مخامخ او ټيليفوني ګواښونه ورځ تر بلې په زياتېدو دي، په څومواردو کې طالبانو سيمه ييزو رسنيو ته ګواښ کړی، چې دولتي اعلانات، موسيقي او تفريحي خپرونې او د ښځو غږونه د نه خپروي. د ګواښونو په لړ کې ويل شوي، که يې يادې رسنۍ غوښتنې عملي نه کړي حملې به پرې وکړي.
د دې ولايتونو له ډلې څو سيمه ييزې راډيوګانې په لوګر ولايت کې له دا ډول زياتو ستونزو سره مخ دي.
د تروريستي ډلو له لوري رسنيو ته داسې مکلفيت ټاکنه کولای شي د يوشمير دغو رسنيو د نشراتو د بنديدو او ياهم دهغودنشراتي محتوا تر اغيزلاندې راتلو لامل شي، چې په دې صورت کې به موږ د رسنيزسکټوراو بيان آزادۍ په ډګر کې د يوه خطرناکه شاته ګرځيدو شاهدان و اوسو د بيان او رسنيو آزادي به بيا له سانسور او بنديز سره مخ شي.

## افغانستان کې د ښځینه خبریالانو کاري وضعیت ته یوه کتنه

د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې له ننګونو سره سره ښځینه خبریالانې په رسنیو کې د خبررسونې کارونو ته دوام ورکوي. که څه هم په وروستیو کلونو کې په هېواد کې د نا امنیو له امله په رسنیو کې د ښځینه خبریالانو او کارکونکو حضور کم شوی، خو سره له دې هم ښځینه خبریالانې خپلو کارونو ته دوام ورکوي.

دامهال دهیواد په لسوو ولایتونو یعنې زابل ، ارزګان ، غور، پنجشیر، پکتیکا ، سرپل، لوګر، نورستان، لغمان اوکنړ کې ښځینه خبریالانې او د رسنیو کارکونکې نشته.

د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې د کارونو او فعالیتونو له ډلې یوه مهمه برخه یې په رسنیو کې د ښځینه خبریالانو اوکارکونکو د وضعیت ښه کول او د دوی د علمي سطحې لوړول دي. کمېټې د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په کاري او ټولنیز محیط کې د ښځیه خبریالانو د جنسي زورونې په اړه څو ناستې وکړې او د جنسي زورونې د مخنیوي مسودې پر طرحه یې بحث وکړ.

همدارنګه په تېره یوه لسیزه کې چې ښځینه خبریالانې له هرې ستونزې په ځانګړې توګه له جنسي زورونې سره مخ شوې، له دې ویرې چې په ټولنه کې ونه رټل شي، پر یادو مواردو یې ډېره اینبې او تر شا یې پرې ایښې، خو اوس ښځو دا سنت مات کړی او په ښځینه حوزه کې په سرپټو ستونزو په ازاد ډول بحثونه کوي او په رسنیو کې له لیکلو او ویلو ځانونه نه سپموي.

په کابل کې د ښځینه خبریالانو په اړه باید وویل شي چې د پخوا په پرتله یې وضعیت ښه شوی، خو لا هم له نا قانونه قراردادونو څخه سر ټکوي. د ویلو وړ ده، چې په کابل ښار کې د لسګونو تلویزیونونو سربېره چې فعالیت کوي، په .وروستیو کې د ښځې په نوم تلویزیون په فعالیت پیل کړی، چې د ښځینه خبریالانو له تود هرکلي سره مخ شوی
په ولایتونو کې د ښځینه خبریالانو پر وړاندې ننګونې او خندونه زیات شوي او لا هم په زیاتېدو دي. په هرات ولایت کې اکثره نجونې چې د ژورنالیزم پوهنځي څخه فارغې شوي، ډېرې کمې یې په خپل مسلک کې کار کولو ته زړه ښه کوي، ځکه په یاد ولایت کې د رسنیو پر وړاندې منفي تبلیغات زیات شوي او کورنۍ زړه نه ښه کوې، چې نجونې یې په رسنیو کې کار وکړي.

ډېری دا ښځینه خبریالانې د معلمۍ دندې ته مخه کوي، ترڅو د خلکو او کورنۍ له زورونې څخه په امن کې وي، خو له دې سره سره هڅه کېږي، چې په رسنیو کې د ښځو ونډه زیاته او د منفي تبلیغاتو د مخنیوي ترڅنګ د یادو ناخوالو مخه هم ونیول شي. د ښځینه خبریالانو بنسټ د دې هڅو بېلګه ده، چې په دې وروستیو کې یې په هرات ولایت کې په فعالیت پیل کړی او موخه یې داده چې په ګډه د ښځینه خبریالانو له حقونو دفاع او مبارزه وکړي. په روان کال کې د .عصر په نوم راډیو چې د ښځو لپاره یې په یاد ولایت کې ځانګړي نشرات کول د مالي ستونزو له امله نشرات ودرول
په شمالي ولایت بلخ کې د ښځینه خبریالانو وضعیت بیا نسبتاً ښه دی، خو د رسنیو مالي ستونزې اجازه نه ورکوي، چې خپل فعالیتونه زیات کړي.

د ښځو لپاره د ځانګړو راډیوګانو (رابعه بلخي او بانو) دوامداره خپرونې په دې ولایت کې د ښځینه خبریالانو د ښه وضعیت ښه تصویر دی. دا راډیوګانې د ښځو په هڅو او مدیریت چلېږي او ښه زیات مخاطبین لري.
په کندهار او هرات ولایتونو کې د تروریستي ډلو شتون او د سنتي ارزښتونو حاکمیت د ښځینه خبریالانو پر وړاندې جدي ګواښونه او ننګونې دي. له همدې امله په رسنیو کې د ښځینه خبریالانو او کارکونکو ونډه ډېره پیکه ده.
په ځینو نورو ولایتونو لکه په بامیانو او په نسبي توګه په تخار او بدخشان ولایتونو کې هم وضعیت ښه دی او ښځې کولای شي په سیمه ییزو رسنیو کې کار وکړي، خو د بدخشان او تخار ولایتونو ولسوالۍ د ښځینه خبریالانو د فعالیت لپاره جوړې نه دي.

په سوېلي حوزه کې هم وضعیت ښه نه دی. په خوست کې د (هیلو کاروان) راډیو چې د لسو په شاوخوا کې ښځینه خبریالانو او کارکونکو کار په کې کاوه، اوس په ډېر کم شمېر رضاکاره ښځینه کارکونکې لري. د پکتیا او خوست په نورو رسنیو کې د ښځینه خبریالانو ونډه ډېره کمه ده. د پکتیکا په سیمه ییزو رسنیو کې له سره ښځې په رسنیو کې کار نه کوي او په دې برخه کې سیمه ییزې رسنۍ له زیاتو ستونزو سره مخ دي.

په لوګر ولایت کې هم همدا وضعیت دی. له یوې خوا د طالبانو ګواښونه او له بل لوري مالي او سنتي ستونزې د ښځینه خبریالانو پر وړاندې پراته خنډونه دي.
ښځینه خبریالانې اوس پوه شوې، چې باید د خپلو حقونو د دفاع په پار را پورته شي او له نارینه خبریالانو سره په ګډه د انساني ارزښتونو د دفاع په سنګر کې ودربېږي. د ښځینه ژورنالیستانو دا تحرک هیله بښونکی دی او دا هیلې یې را ژوندۍ کړې، چې د بیان او رسنیو ازادې بنسټ قوي شوی او د دې وضعیت تغییر او ماتول به محافظه کاره سیاسونو او تروریستي ډلو ته دومره اسانه نه دي.

## پایله

د خبریالانو پر وړاندې امنیتي ننګونې مخ په زیاتېدو دي. په هېواد کې د بې ثباتي او نا امنۍ له زیاتېدو سره د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو او تاوتریخوالي کچه هم لوړه شوې ده. تروریستي ډلې د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو کچه لوړوي. د داعش ډلې را پورته کېدل د رسنیو پر وړاندې ستره ننګونه ده، په ځانګړې توګه د هېواد په ختیځ کې یې د رسنیو او خبریالانو د خوندیتوب په اړه جدي ننګونې رامنځ ته کړې دي.

د رسنیو پر وړاندې د ګواښونو زیاتوالی او د تروریستي ډلو له لوري د ګواښونو په واسطه د رسنیو پر محتوا د کنټرول هڅې د رسنیو د ځاني سانسور او د محتوا د ازادۍ په اړه جدي ننګونې را ولاړې کړې دي. تروریستي ډلې د دې ترڅنګ چې په رسنیو فشار راوړي، ترڅو د دوی اړوند خبرونه نشر کړي، په نا امنه سیمو کې رسنیو د ګواښونو له لارې مجبوري وي، چې دولتي په ځانګړې توګه د امنیتي ځواکونو اعلانات، تفریحي او موسیقي خپرونې او د ښځو غږونه نشر نه کړي.

که څه هم حکومت د خبریالانو د خوندیتوب او امنیت لپاره یو لړ تابیاوې نیولې دي، چې د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب لپاره ګډه کمېټه یې د بېلګې په توګه د یادونې وړ ده، خو یاده کمېټه هغومره اجرایي صلاحیتونه نه لري څکه یې پایلې هم مطلوبې نه دي. له دې سربېره د رسنیو د امنیت په خوندیتوب کې د امنیتي ځواکونو بې غوري، په ځانګړې توګه په هغو حالاتو کې چې رسنۍ له جدي ګواښ سره مخ وي، د غندنې او خواشینۍ وړ ده. تر بل هر وخت نن د رسنیو، خبریالانو او په ټوله کې د بیان ازادي، چې د تېرې یوې نیمې لسیزې لاس ته راوړنې دي، د امنیت او خوندیتوب مسله یې ضروري ده.

ډېرې رسنۍ د خپلو کارکونکو امنیت او خوندیتوب ته لازمه پاملرنه نه کوي، په ځانګړې توګه د هغو خبریالانو د خوندیتوب په اړه بې غوري کوي، چې د جنګ لومړیو کرښو ته یې په خبرې پوښښ پسې لېږي. د کارکونکو خوندیتوب ته پاملرنه د رسنیو قانوني، اداري او اخلاقي مکلفیت دی.

لا هم په افغانستان کې خبریالان دننه په رسنیزو ادارو کې ستونزو سره مخ دي. د کارکونکو ګمارنه او منفکي د کار قانون او ټولیزو رسنیو د تاسیس او فعالیت د مقررې سره سم نه ترسره کېږي. ځیني رسنۍ حتا د دې پروسو لپاره اداري پالیسي نه لري او کارکونکي او خبریالان لکه ورځني مزدوران پرته له دې چې د استخدام مرحلې یې په نظر کې ونیسي استخداموي او په ډېره اسانۍ پرته له دې چې د ګوښه کېدو قانع کوونکي دلایل وړاندې کړي، ګوښه کوي او د میاشتو میاشتو معاش ترې ګرځوي. په رسنیو کې د کار له قانون او د رسنیو د فعالیت او تاسیس له مقررې سرغړونه یو رسم ګرځېدلی او ډېری وخت د خبریالانو حقوق تر پښو لاندې کېږي.

اطلاعاتو ته د نه لاسرسي په برخه کې د ستونزو دوام هم د روان کال د لومړیو شپږو میاشتو له ننګونو څخه وي او دا نیمګړتیا لا هم لرې شوې نه ده. په مرکز او ولایتونو کې د ډېری ادارو ویاندویان او د چارو سمبالونکي خبریالانو ته په وخت کره اطلاعات او ځواب نه ورکوي او هڅه کوي، چې په یوه شکل یې پټ وساتي. ښکاره بېلګه یې په سردار محمد داود خان روغتون او ۲۰۹ شاهین قول اردو بریدونه دي، چې دولتي اړخ خبریالانو ته په وخت او کره معلومات نه ورکول. د دولت له لورې دا ډول چلند خبریالان مجبور کړي، چې د پېښو د معلوماتو په اړه غیر رسمي سرچینو ته مخه کړي، هغه څه چې نه یوازې رسنیو او د رسنیو مخاطبین حیران کړي ، بلکې د دولت اطلاعاتي برخې ته هم زیان اړوي، بې باوري رامنځ ته کوي او د تروریستي ډلو تبلیغاتي برخه قوي کېږي.

د افغانستان حکومت د اطلاعاتو د را ټولونې لپاره منظم او معیاري سیستم نه لري. دا خبریالانو ته د اطلاعاتو ورکونې په برخه کې د حکومت د بې پروایي یوه نمونه ده. د اطلاعاتو د را ټولونې اوسنی سیستم یا زوړ دی، یا غیر معیاري او یا له سره سیستم نه لري.

په رسنیو کې د ښځو ونډه د نا امنۍ له زیاتوالي او د رسنیو پر وړاندې د ګواښونو له لوړېدو سره کمه شوې ده. د ښځینه خبریالانو او د رسنیو ښځینه کارکونکو پر وړاندې دا ګواښونه په ځانګړې توګه په نا امنه ولایتونو کې زیات شوي دي. په رسنیو کې د ښځینه کارکونکو نه ونډه د دې لامل کېږي، چې په رسنیو کې د دوی اړوند موضوعات کم خپاره شي.

## وړاندیزونه

- د نا امنۍ له زیاتېدو او د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو د کچې له لوړېدو سره د افغانستان دولت باید د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب په موخه ټینګ تدابیر ونیسي او په هېواد کې د خبریالانو د تلفاتو د مخنیوي په موخه دې کوټلې هڅې وکړي. د ستونزو د جدیوالي په صورت کې دې د خوندیتوب او امنیت ګډې کمېټې اجرایي برخه زیاته شي، چې تېر کال د حکومت له لورې رامنځ ته شوه. دا کمېټه کولای شي، چې تر ډېره بریده د خبریالانو او رسنیو امنیتي ستونزې حل کړي. یاده کمېټه دې خبریالانو او رسنیو ته د ګواښ د متوجه کېدو په صورت کې ښکاره قانوني صلاحیتونه ولري. امنیتي ځواکونه د استقلالیت په ساتلو سره له رسنیو او خبریالانو سره باید همکارۍ زیاته کړي، خو په هیڅ صورت باید رسنۍ سانسور نکړي.
- رسنۍ هم باید د خپلو کارکونکو د خوندیتوب په موخه ټینګ او جدي تدابیر ونیسي. د کاري چاپېریال خوندیتوب او امنیت، د خوندیتوب لپاره د پالیسي او طرزالعمل رامنځ ته کول، کارکونکو ته د لومړنیو مرستو او خوندیتوب پروګرامونو جوړول، د جنګ له لومړۍ کرښې راپور ورکونکو خبریالانو لپاره د خوندیتوب وسایل برابرول او د پېښې په صورت کې د رواني درملنې پروګرامونو برابرول هغه کارونه دي چې رسنۍ یې باید ترسره کړي. رسنۍ کولای شي په دې برخه کې د کمېټې له مرستو هم ګټه واخلي.
- خوندیتوب باید د ټولو خبریالانو لومړیتوب وي. هیڅ خبر د خبریال ترځان لوړ ارزښت نه لري. خبریالان باید خپله ټوله هڅه د ځان خوندیتوب ته وکړي، د اړتیا په صورت کې خبریالان کولای شي له کمېټې سره په اړیکه کې شي.
- د رسنیو ملاتړي بنسټونه د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب او امنیت په برخه کې تر پخوا ډېره هڅه او مرسته وکړي. د رسنیو پر وړاندې د ګواښونو او خطرونو کچې ته په کتو لازمه ده، چې له وړاندې ټینګ او زیات اقدامات ترسره شي. د دې بنسټونو ترمنځ ګډه همکاري او همغږي د دوی د کار د موثریت سبب ګرځي.
- حکومت او د خصوصي سکټور ارګانونه باید اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې خنډونه لرې کړي. حکومت دې د نا کره آمارو له شریکولو او په تروریستي حملو کې د حقایقو له پټولو لاس واخلي. په هغه صورت کې چې دمعلوماتي سرچینې په توګه د حکومت اعتبار له منځه ولاړ شي، د بې باوره اطلاعاتو دوران چې له غیر رسمي سرچینو څخه ترلاسه شوی وي، اطلاعاتي فضا خرابوي او د خلکو روحیه لا نوره ځپل کیږي. په داسې حالاتو کې د تروریستي ډلو تبلیغاتي اړخ پیاوړی کیږي او هغوی له دې خلا څخه خپله ګټه اخلي.
- د افغانستان حکومت باید اطلاعاتو ته د لاسرسي پر قانون د څارنې کمیسیون تقویه کړي او یاد کمیسیون ته لازم صلاحیتونه ورکړي، ترڅو اطلاعاتو ته د لارسرسي قانون ښه تطبیق شي. همدارنګه دې اطلاعاتو ته د لارسرسي قانون تعدیل شي، ترڅو د څارنې کمیسیون د مستقل کمیسیون په توګه فعالیت ولري.
- اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې حکومتي مقامات په ځانګړې توګه والیان باید له خبریالانو سره دوه ګونی چلند ونکړي، ترڅو اطلاعات په براره بڼه د ټولو خبریالانو په واک کې ورکړل شي. د دې ترڅنګ حکومت باید په هغو ځایونو کې ویاندویان زیات کړي، چې د خبریالانو اړتیا ورته زیاته ده.
- د افغانستان په حکومت کې د اطلاعاتو راټولونه معیاري نه ده. له همدې امله حکومتي اړخ یا آمار نه لري او که یې لري هم د خارجي بنسټونو لکه نړیوال بانک او اسیایي بنسټ له شمېرو سره توپیر لري. حکومت باید د اطلاعاتو د را ټولونې معیاري او منظم سیستم رامنځ ته کړي.
- د رسنیزو ادارو سازماني ستونزې باید اطلاعات او فرهنګ وزارت په جدیت وڅاري او د رسنیو مالکین مجبور کړای شي چې د کارکونکو قراردادونه د کار له قانون او د رسنیو د فعالیت او تاسیس له مقررې سر سم منظم کړي.
- سربېره پر دې چې رسنیو کې د ښځینه کارکونکو ونډه کمه شوې، رسنۍ باید له ښځینه خبریالانو سره د استخدام او اداري ترفیع په برخه کې مثبت تبعیض وکړي. په رسنیو کې د ښځو کمه ونډه د دې سبب کیږي، چې د دوی اړوند موضوعات ډېر کم په رسنیو کې خپاره شي.
- اطلاعات او فرهنګ وزارت او رسنیز بنسټونه دې د سایبري جرمونو قانون له سره وڅېړي. که د بشري حقونو خلاف موارد او یا د اساسي قانون سره په ټکر کې وي، باید تعدیل شي.
- نړیواله ټولنه دې د خبریالانو د خوندیتوب او د رسنیو ازادۍ د ساتنې په موخه مشخص دریځ ونیسي او په دې برخه کې دې د ملاتړ پروګرامونه جوړل کړي. په افغانستان کې د بیان آزادي او د رسنیو په برخه کې لاس ته راوړنې د نړیوالې ټولنې د مالي، سیاسي او اخلاقي مرستو پایله ده، نو له همدې امله نړیواله ټولنه باید اجازه ورنکړي، چې دا لاس ته راوړنې کمزورې او یا له منځه ولاړې شي.